مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۱۹/۰۱/۱۰

# د افغانستان سیاسي بحران

بحران، د ډیکشنریو د تعریفونو په اساس، داسي حالت ته ویل کېږي چي یو فرد، یوه ډله، یو جمعیت او یا غونډه ټولنه له یوه خطرناک حالت سره مخامخ سي. په عمومي صورت، بحران په کورنی، اقتصاد او ټولنه کي داسي حالت دی چي سستم چنداني کار نه ورنه کوي او یو عاجل تصمیم لازم وي؛ مګر د سستم د کار نه ورکولو علتونه سمسدتي معلوم نه وي، یا نه سي معلومېدلای .

د دې تعریف او لنډي توضیح په اساس، ویلای سو چي افغانستان له سیاسي بحران سره لاس او ګرېوان دی. لومړی خو دا چي په هېواد کي د داخلي جنګ، سیاسي او قومي دښمنیو او د هېواد په هره ګوښه کي د خپل سرو ملېشو او قومانداناتو له لاسه د هېواد عمومي امنیت، چي لومړی درجه اهمیت لري، هره شېبه له خطر سره مخامخ دی. د افغانستان هیڅ وګړی، په هیڅ سیمه کي خوندي نه دی. ویل کېږي چي طالبان، چي د اوسني حکومت په مقابل کي تر ټولو لوی قوت دی، د هېواد په سلو کي له پنځه دېرش څخه تر پنځه څلوېښت خاوري باندي بشپړ کنټرول لري .د رواني میاشتي پر نهمه د چار شنبي په ورځ د امریکایانو او طالبانو ترمنځ د خبرو د ځنډېدلو یو علت دا وو چي طالبانو د خپلو پنځه ویشتو زرو بندیانو د خوشي کېدلو غوښتنه کوله او ویل چي په عوض کي به د حکومت درې زره بندیان ورته خوشي کړي. که د طالبانو دا ادعاوي ریښتیا وي، چي مقابل لوري رد کړي نه دي، نو هغوی که د خپلو بندیانو، لړترلړه، دوه چنده قوه ولري نو شمېر یې پنځوس زرو ته رسېږي او دا پخپله یوه لویه پارتیزاني قوه ده. دا چي هغوی درې زره بندیان لري نو د دې معنی دا ده چي هغو باید د دونه زیات شمېر بندیانو د ساتلو لپاره دېري زیاتي سیمي په دومره سخت او بشپړ کنټرول کي ولري چي د حکومت هغو سیمو ته هیڅ زور نه رسېږي او دوی په پوره زړه بندیان پکښي ساتلای سي .له دې قوي سره جګړه د لسو کالو راهیسي روانه ده. ورځ په ورځ یې زور اخیستی دی او د حل هیڅ لاره یې چا ته نه ده معلومه .

افغانستان د مخدره موادو په تولید او قاچاق او اداري فساد کي، چي په دې اته لسو کالو کي ورځ تر بلي زیات سوی دی، په نړی کي لومړی مقام لري. په دې برخه کي یا هیچا هیڅ حل نه دی وړاندي کړی او یا هیڅوک د دې اساسي ستونزو حلول نه غواړي .

څه باندي درې میاشتي مخکي، په افغانستان کي پارلماني انتخابات سوي دي او، د پراخو درغلیو له امله یې، تر اوسه پوري تر نیمایی کمي نتیجې اعلان سوي دي. په کابل کي خو دونه درغلي سوې وه چي د رایه ګیری نتایج یې غونډ فسخ سول. اوس نو، که د کابل په ښار کي، چي حکومت تر بل هر ځای زیات کنټرول پکښي لري، په رایه ګیري کي، دونه پراخه درغلي کېږي، نو سری به د ولایاتو او اولسوالیو د رایه ګیریو په نتایجو څه اعتبار وکړای سي. او دا به څوک ووايي چي د دونه درغلیو سره دا اوسنی پارلمان څرنګه قانوني حیثیت پیدا کولای سي. تر دې ټولو مهم بحران، چي سړی نه پوهېږي د هېواد سیاسیون او تش په نامه سیاسي ډلي او ګوندونه ولي احتجاج نه کوي، دا دی چي د کابل حکومت پخپله د اساسي قانون په خلاف چلیږي. په اساسي قانون کي جمهوررییس او دوه مرستیالان ذکر سوي دي .البته جمهوررییس اشرف غني، د امریکا د خارجه وزیر په حکم، د اجراییه ریس مقام او د هغه دوه مرستیالان، چي تر اوسه پوري یې د وظایفو لایحه او قانوني او اداري صلاحیتونه معلوم نه دي، په حکومت کي ومنل. څه باندي څلور کاله کیږي چي اجراییه رییس او د هغه دوه تنه مشاورین، د دوی څه باندي دوه سوه سلاکاران، څه باندي زر تنه مامورین د دولت له خزاني څخه، په غیر قانوني توګه په میلیونونو ډالره تنخواګاني اخلي؛ خو دا سوال هیچا نه دی کړی چي دا اجراییه ریاست مقام له کومه سو .

له اساسي قانون څخه دا څرګنده سرغړونه پخپله جمهوررییس، چي د دې ملي وثیقي د تطبیقولو سوګند یې کړی دی، او د اساسي قانون د عملي کولو او ساتلو تر ټولو ستر او با صلاحیته مقام دی،د امریکا د خارجه وزیر جان کیري په امر کړې ده. او په یوه ورځپاڼه کي خو لا راغلي وه چي دا پیشنهاد ( له اساسي قانون څخه څرګنده سرغړونه) پخپله اشرف غني کړی وو. له اساسي قانون څخه سرغړونه قانوني جرم دی او جمهوررییس اشرف غني، په دې حساب قانوناً مجرم دی.( چون کفر از کعبه خیزد کجا ماند مسلماني) د اشرف غني غیرقانوني حکومت، له



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

بحران څخه د افغانستان د راایستلو لپاره هيڅ ډول پلان او حتی نيت نه لري؛ ځکه چي په دې پنځو کالو کي يي په دې اړه هيڅ نه دي کړي .
له بحران څخه د افغانستان د را ايستلو لپاره يوه بله طرح د پخواني جمهورريس حامد کرزي ده، چي وايی يو موقت حکومت دي جوړ سي، لويه جرګه دي را وبلله سي او انتخابات دي وسي. موقته اداره به څرنګه جوړيږي؟ ځکه چي د اشرف غني حکومت خو په خپله خوښه د قدرت خوشي کولو ته نه حاضريږي او پر انتخاباتو باندي، چي د کابل وروستی رايه ګيري يي ښه مثال دی، ټينګار کوي. د اشرف غني غير قانوني او مجرم حکومت غواړي په همدغه شکل دوام وکړي او په هره توګه چي کيږي خپله دوهمه پنځه کلنه دوره پای ته ورسوي او داسي هم اوربدل کيږي چي له عبدالله سره يي پر دغه پروګرام باندي جوړه راغلي ده او هغه به بيا هم د اجراييه رييس مقام لري .که اوسنی حکومت پښي ټينګي کړي نو د لويی جرګي وجود ځکه له سوال سره مخامخ کيږي چي لويه جرګه خو د حکومت له خوا رابلله کيږي. دا کار يوازي په هغه صورت کي امکان لري چي ډاکټر زلمی خليل زاد اوسني حکومت ته رخصت ورکړي.تر اوسه خو داسي نه ښکاري چي هغه به د دې کار د کولو نيت او پلان ولري .
دريمه، او ترټولو خطرناکه طرح، چي د هيواد له تجزيي څخه نيولي تر هر څه پوري بوی ورڅخه راځي، د يونس قانوني هغه طرح ده چي اتمر ته يي، د هغه د مرستيالی د مقام د منلو لپاره، د شرايطو په توګه، وړاندي کړې ده .يونس قانوني په خپله ثبت کړې وينا کي، چي ما د تاند په ويبپانه کي واوريده وايي چي زموږ لپاره، چي مطلب يي د جمعيت ګوند دی، د ساختار تغيير تر هر څه زيات اهميت لري. ښاغلی قانوني وايي چي که ځوک له ده سره د ساختار تغيير ونه مني نو دی حقير فقير له هيچا سره نه ځي او د هيچا معاونيت نه مني. ښاغلی قانوني په خپله دې لنډه وينا کي د ساختار پر تغيير باندي دونه ټينګار کوي چي دا کلمه څه کم لس ځله يادوي. هغه وايي چي په راتلونکي نظام کي خو رياست دوی ته نه رسيږي خو ستراتيژيک هدف به يي دا وي چي يو نيمه رياستي نظام منځته راسي. په دې نظام کي به جمهورريس دری مرستيالان لري او رياست اجراييه به په صدارت تبديليږي. دا نو نه ده معلومه چي صدراعظم به هم د اجراييه رييس په توګه دري مرستيالان لري او که به يي ساختار! وروسته اعلانيږي. دی وايی په ټولو مسايلو کي به د صدارت صلاحيتونه مشخص وي او يوه بله په زړه پوري خبره يي لا دا کړې ده چي وايي واليان به نيمه انتخابي وي. ما انتخابي او انتصابي اوريدلي وه خو په خپل ژوند کي مي نيمه انتخابي کلمه نه ده اوريدلې؛ که بل ځوک ورسره اشنا وي نو وي به، علم درياب دی !
يونس قانوني وايی چي د دې ترڅنګ به د رهبرانو څخه يوه مشورتي عالي شورا جوړيږي. البته دا خو طبعا هغه جهادي رهبران دي چي کابل يي تباه کړی، قتل عام کړی، بي عزته کړی، چور کړی او تر دغه ځايه را رسولی دی. يونس قانوني خپلو انډيوالو رهبرانو ته ونډه ورکوي خو مشخصه کړې يي نه ده چي دا شورا به څه وظايف او څه امتيازات لري. يونس قانوني وايي چي د جهاد او مقاومت له حوزې څخه، چي مطلب به يي پنجشير وي، هم بايد يو کانديد ولرو چي همدغه داعيه او بيرغ اوچت وساتي. دی وايي دا کانديد معلوم دی. هغه احمد ولي مسعود دی، چي زموږ خپل سړی دی او موږ ټول يي حمايه کوو .دا نه ده معلومه چي د پنجشيريانو د دې کانديد وظيفه به څه وي. ښايي هغه به د صدراعظم تر څنګ يو بل صدراعظم وي، چي د جمعيت د ګوند په زور، چي قانوني وايی استادعطا، اسماعيل خان، بسم الله خان او نور يي شاته ولاړ دي، د جمهورريس قدرت او صلاحيت کنټرولوي .
قانوني وايي چي له اشرف غني سره يي خپله طرح شريکه کړې ده خو هغه ورته ويلي دي چي دا د هغه لپاره سور خط دی او هيڅ وخت به دا کار ونه کړي. خو حنيف اتمر زموږ له طرحي او پروګرام سره په سلو کي سل موافقه کړې ده .
اشرف غني له يوې خوا برحال جمهورريس دی او له بلي خوا د راتلونکو احتمالي انتخاباتو د ګټلو په صورت کي په خپل بريالیتوب باوري دی؛ نو ولي ځان په لوی لاس د قانوني په جنجال او يوه بله غير قانوني دسيسه کي لتاړ کړي. خو که اتمر ريشتيا هم له قانوني سره موافقه کړې وي نو د هغه لپاره د شرم خبره څه چي د پزي پرې کيده دي .او د ده دي ملاګیۍیۍ ماته سي. ما يوه ورځ مخکي د اشرف غني د حکومت د يوه برحال وزير سره، چي د اتمر نيژدي ملګری دی، په ټلفون کي خبري وکړي او هغه په زغرده د قانوني د طرحي دفاع وکړه او دا يي د وطن د ژغورني لپاره يوه معقوله او پر وخت طرح وبلله. زه د دې وزير له خبرو څخه مطلق داسي پوه سوم چي قانوني ريشتيا وايي او اتمر د هغه له ټولو غيرقانوني، غيرمشروع، ضد ملي پروګرامونو او دسيسو سره موافقه کړې ده. زه اتمر له نيژدې پيژنم. هغه يو هوښيار سړی دی. نه پوهيږم چي هغه به کوم مجبوريت د دومره غيرقانوني او وطن پلورني پروګرام منلو ته مجبور کړی وي. زه له اتمر څخه هيله کوم چي له دې خاينانه پروګرام څخه ځان وژغوري. دی اوس هم ځوان دی؛ په وطن کي اينده لري او ښايي يو وخت ګټور کارونه وکړای سي .
د هيواد له ټولو منورينو څخه مي غوښتنه دا ده چي په مطبوعاتو کي خولي پرانيزي. اولس راويښ کړي او پرې نه ږدي چي دا غله او داړه ماران، چي زما د محترمي او مبارزي خور )ملالی جويا ( په قول يي ځای په طويله کي وو، د وطن په سرنوشت تر ابده او قيامت پوري دونه بېشرمانه او بېرحمانه لوبي وکړي .
و ما علينا الی البلاغ .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ